# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com   www.afgazad.com

| حقوق بشر | Human rights |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعی

۰۲ فبروری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د يرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي شننه
# ۸

**دريمه برخه: د روم اساسنامي له مُسجلو حُکمو سره د امريکايي او ايتلافي لښکرو د ځينو بشری ضد او جنګي جنايتو مقايسه**

د دې ليکني په دوهمه برخه کي مو د جزا د بين المللي محکمي د روم اساسنامي د تسجيل سوو تعريفو په رڼا کي د بشري ضد او جنګي جنايتو د متشکله عناصرو په اړه لنډي خبري وکړې؛ او په دې حقيقت پوه سوو، چي په افغانستان کي د امريکايي او ايتلافي لښکرو بشري ضد او جنګي جنايتونه له يوې خوا پراخه، سيستماتيکه او پرله پسي بڼه لري؛ او له بلي خوا د يرغلګرو لښکرو سياسي او پوځي واکمنان په بېلابېلو بڼو د هغو په ارتکاب او تکرار کي مستقيمه يا غيرمستقيمه ونډه لري. په دې برخه کي د امريکايي او ايتلافي قواوو ځيني بشری ضد او جنګي جنايتونه د جزا د بين المللي محکمي د روم اساسنامي د اوومي او اتمي مادې له مُسجلو حُکمو سره پرتله کوو:

**انسان وژنه:**

د روم اساسنامي د اوومي مادې په لومړی فقره کي د انسان وژني يادونه سوې ده. په تېرو بحثو کي مو د معتبرو اسنادو په ښوولو سره د ملکي افغانانو د بې رحمانه وژنو پر انکار نه کېدونکو واقعيتو او ارقامو څو لنډي خبري وکړې. دا واقعيتونه او ارقام په ډاګه ښيي، چي امريکايي او ايتلافي پوځونه نه يوازي په خپله د ملکي افغانانو په وژنه کي لوی لاس لري، بلکي د وسله والو مخالفينو د غيرمسوولانه وژنو او ورانکاريو اصلي او اساسي علت هم ګڼل کيږي. که څه هم مخالفي وسله والي ډلي په هيڅ وجه او هيڅ پلمه د بې ګونا ملکي وګړو پر خلاف د خپلو انتحاري بريدو او نورو ورانکارو عملو له مسووليته غاړه نسي غړولای، خو له دې روښانه حقيقته هم هيڅکله سترګي نسي پټېدلای، چي زموږ پر استعمارځبلې مېنه د امريکايي ځواکو ظالمانه يرغل او د امريکايي- ايتلافي لښکرو يوولس کلن خونړي اشغال په افغانستان او درسته سيمه کي د وسله والو مخالفينو و بې پروا او بې مسووليته وژنو، ورانيبو او ناامنيبو ته لار هواره کړې ده. په بله وينا، د مخالفينو ناروا انسان وژني، تخريبي عملونه او تراه اچووني په واقعيت کي د يرغلګرو لښکرو د ناروا اشغال معلول او محصول دي. د دې استدلال له مخي نو امريکايي او ايتلافي پوځونه نه

يوازي د افغانانو په خون خرابه، بلکي د شاوخوا سيمي په بي ثباتی او نا امنی کي مضاعف يا دوه چنده مسووليت لري.

**انسان وژنه:**

د روم اساسنامي د اوومي مادې په لومړئ فقره کي د انسان وژني يادونه سوې ده. په تېرو بحثو کي مو د معتبرو اسنادو په ښوولو سره د ملکي افغانانو د بي رحمانه وژنو پر انکار نه کېدونکو واقعيتو او ارقامو څو لنډي خبري وکړې. دا واقعيتونه او ارقام په ډاګه ښيي، چي امريکايي او ايتلافي پوځونه نه يوازي په خپله د ملکي افغانانو په وژنه کي لوی لاس لري، بلکي د وسله والو مخالفينو د غيرمسوولانه وژنو او ورانکاريو اصلي او اساسي علت هم ګڼل کيږي. که څه هم مخالفي وسله والي ډلي په هيڅ وجه او هيڅ پلمه د بي ګونا ملکي وګړو پر خلاف د خپلو انتحاري بريدو او نورو ورانکارو عملو له مسووليته غاړه نسي غړولای، خو له دې روښانه حقيقته هم هيڅکله سترګي نسي پټېدلای، چي زموږ پر استعمارځبلې مېنه د امريکايي ځواکو ظالمانه يرغل او د امريکايي- ايتلافي لښکرو يوولس کلن خونړي اشغال په افغانستان او درسته سيمه کي د وسله والو مخالفينو و بې پروا او بې مسووليته وژنو، ورانيو او نا امنيو ته لار هواره کړې ده. په بله وينا، د مخالفينو ناروا انسان وژني، تخريبي عملونه او تراه اچووني په واقعيت کي د يرغلګرو لښکرو د ناروا اشغال معلول او محصول دي. د دې استدلال له مخي نو امريکايي او ايتلافي پوځونه نه يوازي د افغانانو په خون خرابه، بلکي د شاوخوا سيمي په بي ثباتی او نا امنی کي مضاعف يا دوه چنده مسووليت لري.

**ورانکاري:**

د روم اساسنامي د اوومي مادې په دوهمه فقره کي د ورانکارۍ و موضوع ته اشاره سوې ده. موږ ټول ګورو، چي د يرغلګرو لښکرو په ظالمانه جګړه کي هم زموږ د بېوزلو او مظلومو وطندارانو و کورو، دوکانو، باغو او نورو شتمنيو ته اوښتي زيانونه تر حساب تېر دي. د امريکايي او ايتلافي لښکرو د ورانيو دپاره دلته د« مشت نمونهٔ خروار » په دود د کندهار د ارغنداو اولسوالی د خُسرو د« تَرَکو کلاچي » د وحشيانه هوارولو مثال کافي ګڼو. د ملي او بين المللي خبري مؤسسو د رپوټ له مخي امريکايي او ايتلافي قواوو د ۲۰۱۰ ع کال په مني کي د ارغنداو اولسوالی د خُسرو د سيمي پر« تَرَکوکلاچه » پينځه ويشت ( ۲۵) ټنه ياني پوره پينځه ويشت زره (۲۵۰۰۰) کيلو ګرامه چاودېدونکي مواد و غورځول، چي په نتيجه کي ګرده کلی د لاس د اورغوي غوندي هوار کئ.[۴۲] حتا د کرزي د مزدور رژيم له خوا ټاکل سوي حکومتي کميسيون هم د امريکايي او ايتلافي پوځو په دغو وحشتناکو عملياتو کي د خلګو و مادي شتمنيو ته اوښتئ زيان سل ( ۱۰۰) ميليونه امريکايي ډالر وباله.[۴۳] بيله شکه،« ترکو کلاچه » يوازنی کلی نه دئ، چي د مځکي له مخي نابود سو. موږ شاهدان يو، چي د امريکايي او ايتلافي پوځو په ظالمانه عملياتو کي زموږ د هيواد ډېر نور ودان او سمسور کلي هم د بمو او باروتو په زور په وحشتناکو کنډوالو اوښتي دي. لکه څنګه چي مخکي يادونه وسوه، دا خبره سمه او دقيقه ده، چي وسله والو مخالفينو هم کله کله په خپلو ړندو چاودنو او عملياتو کي د بي ګونا خلګو و ژوند او مادي شتمنيو ته درانه تاوانونه اړولي دي، چي مسوولين يې په هيڅ عنوان او هيڅ دليل له پړې او مسووليته غاړه نسي غړولای؛ خو د افغانانو د انساني تلفاتو په څېر د تروريستي ورانکاريو اصلي منشا او علت هم په حقيقت کي د يرغلګرو لښکرو ناروا يرغل، يوولس کلن اشغال او هغه تپل سوئ مزدور رژيم دئ، چي غلا، ظلم، بېعدالتی، فساد او بي کفايتی يې خلګ و وسلي اخيستلو ته مجبور کړي دي.

**د خلګو شړل، جبري ليږل او بي ځايه کول:**

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اوومې مادې په ( د) فقره کې د خلګو د شړلو یا جبري لېږلو او د اتمې مادې د دوهم پاراګراف د ( ب ) فقرې په اتم جُزء کې د اشغالګرو قواوو له خوا و اشغالي ساحو ته د ملکي وګړو د مستقیم یا غیر مستقیم لېږد یا و دغه راز ساحې( دننه یا دباندې ) ته د اشغالي سیمو د ټولو یا ځینو خلګود شړلو( تبعیدولو) یا لیږلو مسأله راغلې ده. دا خبره ظاهراً سهې ده، چې امریکایي او ایتلافي لښکرو یا د هغو مزدور رژیم په خپلو اداري یا عسکري فرمانو زموږ هیوادوال له یوې سیمې څخه و بلې سیمې ته نه دي شړلي یا لیږلي؛ خو په عمل کې ګورو چې د همدې امریکایي او ایتلافي قواوو د خپلسرو عملیاتو یا مزدورو سیمه ییزو زورواکانو د ظلمو او بېعدالتیو له شامته میلیونونه بېوسه او بېکسه افغانان د هیواد په ګوټ ګوټ کې له خپل کور، کلي، باغ او پټي څخه شړل سوي دي. د ځینو احصاییو له مخې یوازې په ۲۰۱۱ع کال کې زموږ شاوخوا یو لک( ۱۰۰/۰۰۰) بېوزلې وطنوال د خپل پلرني کور او کلي وجبري پرېښوولو ته اړ سوي دي.[۴۴] بېله شکه دې جبري مهاجرتو زموږ د بې ځایه سوو وطنوالو پر شخصي، کورني، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي ژوند هم ډېرې ناوړه اغېزې ښندلې دي. د کابل د چار راهي قمبر او چمنِ حضوري او د کندهار د ژړۍ دښت کمپونه د دې دردونکو مهاجرتو څو مثالونه دي. شک نسته، چې د وسله والو مخالفینو ړندو او بې پروا بریدو هم د هیواد په ګوټ ګوټ کې زموږ پر عامو او بېوزلو عزیزانو مځکه سرَه کړې ده، چې همېشه یې باید په سختو او روښانه ټکو غندنه و سي؛ خو سره له دې هم باید دا خبره هیڅکله له یامه و نه غورځل سي، چې د وسله والو مخالفینو ړانده او بې پروا بریدونه په حقیقت کې د امریکایي او ایتلافي لښکرو د ظالمانه یرغل محصلونه او معلولونه دي.که په هیواد کې د پردو عسکرو او مزدورو واکمنانو ناروا راج و تاراج نه وای، نو له تیرو یوولسو کالو راهیسې به نه عام خلګ د خپل کور وکلي و پرېښوولو ته اړ وتل؛ او نه بې د مخالفینو په ړندو او غیرمسوولانه انتحاري یا بمي حملو کې وینې او غوښې پر سړکانو پاشل کېدې. البته، د یرغلګرو لښکرو او مزدور حکومت مشران باید په دې ارزښتناک واقعیت هم سر خلاص کې، چې ولې میلیونونه مهاجر افغانان تر اوسه پورې د پردېسی او بې وطنی په دردونکو شرایطو کې ژوند غوره ګڼي؛ او د اشغالګرو لښکرو او مزدور حکومت و سرو او زرغونو باغو ته زړونه، نه ښه کیږي؟! جواب بېخي څرګند او روښانه دئ؛ او هغه دا چې د پردو لښکرو او تپل سوو واکمنانو په چپه او راسته غوبلو کې د هیڅ خپلواک او ویاړلي افغان ژوند، ناموس او مال خوندي نه دئ. د یرغلګرو لښکرو خپلسري عملیات، وخت او ناوخت تلاښی، شکنجې او توهینونه له یوې خوا، د وسله والو مخالفینو ړانده بریدونه له بلې خوا او بالاخره د مزدورانو واکمنانو ډول ډول ظلمونه، شکوَنې او بېعدالتۍ ټول افغانان له خپل کور او کلي بېزاره کړي دي.

د افغانستان پر بېلابېلو ولایتو او اولسوالیو سربېره د ډیورنډ تر فرضي کرښې آ خوا، د زیاترو قبایلي او غیرقبایلي پښتنو په ژوند کې هم د داسې جبري مهاجرتو او بې ځایه کېدو خواشینونکې داستانونه ګورو، چې ګرده یې په واقعیت کې د امریکایي او ایتلافي لښکرو له ظالمانه تاړاکونو او د پاکستاني پوځیانو له زورزیاتیو او شیطاني دسیسو سره نېغ په نېغه تړاو لري.

### غیر قانوني حبسونه، شکنجې او تعذیبونه:

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اوومې مادې په ( و ) فقره کې د سیاسي، نژادي، ملي، قومي، کلتوري، مذهبي، جنسي یا نورو دلایلو له مخې د یوې ځانګړې ډلې یا عامو خلګو د تعذیب یا شکنجې بیان راغلئ دئ. مخکې تر دې چې د دغو عواملو پر بنسټ د امریکایي لښکرو او د هغو د مزدور رژیم د پراخو او سیستماتیکو شکنجو په اړه څو لنډې خبرې وکو، بې ګټې نه ده چې د بین المللي حقوقو د ځینو معتبرو او ارزښتناکو اسنادو په رڼا کې د

ځورَوَني يا شکنجې حقوقي مانا او مفهوم و پېژنو، تر څو په دې توګه نه يوازې د امريکايي او ائتلافي قواوو، بلکې د هېواد د بېلابېلو سياسي رژيمو له خوا د دغه راز بشري ضد جنايتو د پېژندنې محک او معيار په لاس کې ولرو.

د ملګرو ملتو د سازمان نړيوالې اعلاميې، د بين المللي بشري حقوقو د خورا لوړ او معتبر حقوقي سند په توګه، په خپله پينځمه (۵) ماده کې په لنډو، خو روښانه ټکو د شکنجې، بېرحمانه، غير انساني او سپکاوي ډک چلند يا جزا د مخنيوي لاربشوونه کړې ده.[۴۵] د همدې نړيوالې اعلاميې په نمه ( ۹) ماده کې د خپلسر نيولو، توقيفولو يا شړلو د مخنيوي په باب صريح حُکم تسجيل سوئ دئ.[۴۶] د جينيوّا دريم او څلرم ( ۱۹۴۹ع ) کنوانسيون هم په بشپړ صراحت د جګړو او نښتو پر مهال د بنديانو د شکنجې او تعذيب د مخنيوي مسأله بيان کړې ده.[۴۷] د مدني او سياسي حقوقو په باره کې د ملګرو ملتو بين المللي کنوانسيون ( دا ارزښتناک سند د ۱۹۶۶ع کال د ډيسمبر پر شپاړسمه تصويب سوئ؛ او د ۱۹۷۶ع کال د مارچ پر درويشتمه نافذ سوئ دئ ) هم د خپلې لسمې مادې په لومړۍ فقره کې په پوره وضاحت له توقيف سوو/ بندي سوو کسانو سره د انساني چال چلن او درناوي سپارښتنه کړې ده.[۴۸]

اوس چې مو د بين المللي حقوقو په معتبرو وثايقو کې د شکنجې او تعذيب د مخنيوي په اړه ځيني ارزښتناک احکام بيان کړل، راځو د شکنجې يا ځورَوَني و حقوقي تعريف ته. د جزا د بين المللي محکمې د روم اساسنامې د اوومې مادې د لومړي پاراګراف په « هـ » فقره کې، شکنجه يا ځورَوَنه داسې تعريف سوې ده:« شکنجه ياني و محبوس يا تر څارني لاندې شخص ته سخت فزيکي يا روحي درد او عذاب ورکول. البته، هغه درد او عذاب شکنجه نه ګڼل کيږي، چې په طبيعي يا تبعي بڼه له قانوني مجازاتو څخه را پيدا کيږي.»[۴۹]

لکه څنګه چې ګورو، د روم د اساسنامې اوومې مادې په تسجيل سوي تعريف کې د شکنجې يا تعذيب تعريف عامه بڼه لري؛ او د مسألې ټول اړخونه په دقيقه او مفصله توګه نه وړاندي کيږي. له دې امله بې ځايه نه ده، چې په دې اړه د ګرانو لوستونکو د بڼه پوهاوي او ازاد قضاوت دپاره د شکنجې او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلن او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو د ۱۹۸۴ع کال د ډيسمبر د لسمې نېټې د تصويب سوي کنوانسيون اوله ( ۱ ) ماده هم په پوره ځير تر نظر تېره کو. د دې اختصاصي کنوانسيون په اوله ماده کې د شکنجې يا تعذيب د تعريف په اړه داسې راغلي دي:« هر هغه عمدي عمل، شکنجه يا تعذيب ګڼل کيږي، چې و شخص ته سخت جسمي يا روحي درد او عذاب ورکيږي؛ او له ځورېدونکي شخص يا بل دريم کس څخه د اطلاعاتو يا اقرار اخيستلو يا هغه عمل د جزا ورکولو په مخسد ورکول کيږي، چې ده يا بل دريم کس کړئ يې يا يې په کولو تورن يې يا دی يا بل دريم شخص له ګواښ او اکراه سره مخامخ کيږي يا دغه راز درد او عذاب د هغه ځورونکي دولتي مامور يا بل دولتي مقام د تبعيضي چلن له مخې ور رسېدلئ يې، چې د شکنجې عمل يې په لمسون، رضا او هوکړه اجرا کيږي. هغه درد او کړاو په ځورَوَنه يا شکنجه کې نه راځي، چې د اصلي او تبعي جزاوو له امله پر چا تېرېږي.»[۵۰]

راسئ د شکنجې او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلن او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو د ۱۹۸۴ع کال د ډيسمبر د لسمې نېټې د اختصاصي کنوانسيون د لومړۍ مادې د مندرج حقوقي تعريف پر هر متشکله عُنصُر يا برخه، يو څه نوره رڼا واچوو؛ او له حقوقي پلوه د شکنجې تر هر اړخيزې پېژندنې وروسته په خپله قضاوت وکو، چې يرغلګرو لښکرو او د هغو د مزدور رژيم امنيتي او استخباراتي کارکوونکو ريښتيا هم په افغانستان کې خلګ ربړولي او شکنجه کړي دي که څنګه؟!

- د مخکني حقوقي تعريف له مخې هر هغه عمدي عمل ځورَوَنه يا شکنجه ګڼله کيږي، چې و انسان ته سخت جسمي يا روحي درد او عذاب پيښ کي. بېله شکه، په داسې عمدي اعمالو کښې د نړۍ پر مخ هره جسمي يا روحي ځورَوَنه راتلای سي؛ خو دا خبره مهمه ده چې د شکنجې يا کړولو عمل هرومرو عمدي بڼه ولري. د دې اصل له مخې نو که چيري و چا ته د امنيتي يا استخباراتي کارکوونکو يا بل چا د خطا يا تېروتنې په وجه سخت جسمي يا روحي عذاب و

رسيږي، و داسي درد او تکلیف ته ځوروَنه یا تعذیب نسي ویل کېدای؛ ځکه په داسي ربړونو او تعذیبو کي د قصد عنصر نسته.

- جسمي یا روحي ځوروَنه باید له ځورېدونکي یا شکنجه کېدونکي شخص څخه د مالوماتو ټولولو یا اقرار اخیستلو په مخسد استعمال سوې یي. په دې ترتیب نوکه چیري د دولت امنیتي، استخباراتي او دفاعي کارکوونکي یا نور دولتي واکمنان بېله مالومات غوندېدلو یا اقرار اخیستلو و چا ته وهل، ډبول ورکيي یا یي په بېلابېلو بنو او ډولو په بې عزتی او سپکاوي لاس پوري کيي، دغه راز عملونه په حقیقت کي تعذیب یا شکنجه نه، بلکي نور جرمونه دي، چي هر یو یي ځانته جلا جلاجرمي وصف، متشکله عناصر او جزاوي لري.

- په شکنجه یا تعذیب کي دا ضروري او حتمي نه ده، چي اطلاعات او اقرار یوازي له هغه چا څخه واخیستل سي، چي مستقیماً له ځوروَني یا تعذیب سره مخامخ یي؛ مثلاً امنیتي، استخباراتي، دفاعي او نور اړوند کارکوونکي د یو چا پلار، مور، اکا، ورور، خور یا نور خپلوان، انډیوالان، همکاران او شناختگان له جسمي یا رواني پلوه و ځوریي، چي توقیف سوئ کس( زوی، لور یا کم بل خپل او اشنا) و دوی ته لازم مالومات ورکيي یا د هغه څه پر کولو یا نه کولو اعتراف وکيي، چي دوی یي غوښتنه ځني کيي. لکه څنگه چي ښکاري، په داسي مواردو او حالاتو کي توقیف سوئ شخص د خپلوانو، انډیوالانو، همکارانو او نورو نیژدې کسانو د بېلابېلو جزاوو او فشارو په وجه و ناسمو یا غیرواقعي مالومات ورکولو یا اقرار کولو ته اړوزي یا بالعکس خپلوان، انډیوالان او همکاران د توقیف سوي شخص د شکنجو په سَوَب و همداسي ناسمو مالوماتو ورکولو یا اعتراف کولو ته مجبوريږي.

- کېدای سي و چا ته د هغه عمل د جزا ورکولو په خاطر شکنجه ورکړل سي، چي ځورېدونکي شخص په خپله کړئ یي یا د دریم شخص له خوا سوئ یي یا یي په کولو تورن یي.

- هر هغه عمدي جسمي یا رواني درد او کړاو هم شکنجه گڼله کیږي، چي تورن یا بل دریم شخص له گواښ او اکراه سره مخامخ کيي؛ مثلاً و نیول سوي شخص ته وویل سي، چي که دي د پلانی پېښي یا پلاني شخص په باره کي مالومات را نه کړل یا دي په دې او هغه بنه اقرار ونه کئ، نو ستا یا پلاني شخص سره به دغسي یا هغسي ناوړه چلن وکو یا بالعکس ورته و ویل سي، چي که دي پلاني خپل، دوست یا اشنا داسي مالومات را نه کړل یا یي داسي اقرار ونه کئ، نو ستا سره به پلانی چلن وکو.

- که و شکنجه سوي شخص ته هر سخت جسمي یا روحي درد د واکمن دولتي/ عامه مامور یا بل دولتي/ عامه چارواکي د تبعیضي چال چلن له مخي ورکړل سوئ یي، بیا هم د ځوروَني یا شکنجي جرم تحقق مومي.

اوس چي مو د شکنجي د حقوقي تعریف، متشکله عناصرو او بېلابېلو اړخو په باره کي هم څه مالومات تر لاسه کړل، را گرزو و خپل اصلي بحث ته، چي د یرغلگرو پوځو او مزدور رژیم په زندانو او توقیفخانو کي د معصومو او مظلومو افغانانو د انساني ضد شکنجو مسأله ده.

په افغانستان کي د ملگرو ملتو د مرستو اداري، یوناما، پروسږ کال ( ۲۰۱۱ع ) د اکتوبر په میاشت کي زموږ د هیواد په امنیتي او استخباراتي ادارو کي د شکنجي او تعذیب په باب مفصل رپوټ خپور کئ، چي د هغه له مخي د افغانستان د حکومت په توقیفخانو او محبسو کي د استعماردوښمنو افغانانو ځوروَنه عامه او سیستماتیکه بڼه لري.[۵۱] د یوناما له خوا د افغانستان د امنیتي او استخباراتي ادارو د شکنجي یا تعذیب په اړه د سیستمیک (systemic) یا سیستماتیک/ سیستماتیک (systematic) صفت کاروَنه د تعجب او اریانی خبره نه ده؛ ځکه د امریکایي او ایتلافي یرغل له همغه پیل څخه تر اوسه د افغانستان د اوردو، پولیسو او استخباراتي ادارو غټه او غوښینه برخه د پخواني شمالي اتحاد( جمعیت اسلامي + شورای نظار ، حزب وحدت او جنبش ملي ) د خونخورو جلادانو په لاس کي ده، چي په انسان وژنو او شکنجو کي خورا بد نوم لري. د بلخ ولایت د« دشت لیلي » دله ییز قبرونه د دې جنایتکارو

مزدورانو د انساني ضد او جنگي جنايتو يو کوچنی مثال دئ. لکه څنگه چي د يوناما اداري هم په خپل رپوټ کي يادونه کړې ده، د افغانستان په بېلابېلو ولايتو کي د مزدور رژيم تر واک لاندي تولي بنديخاني او توقيفخاني په هغو مظلومو او بېوزلو پښتنو ډکي دي، چي د هيواد له بېلابېلو سيمو څخه د القاعده او طالب په نامه بېول سوي؛ او په بېلابېلو بڼو ځورول کيږي.

دا شرمناک بشري ضد جنايتونه، نه يوازي د کرزي د مزدور حکومت د امنيتي او استخباراتي کارکوونکو له خوا، بلکي د يرغلگرو لښکرو، په تېره بيا امريکايي پوځيانو له خوا هم سوي او کيږي. بگرام او گوانتنامو يي روښانه ثبوتونه دي. د امريکايي او ايتلافي لښکرو په محبسو کي د هغو بنديانو شمېر لږ نه دئ، چي د شخصي، تنظيمي، ژبني، قومي، سمتي او داسي نورو مغرضانه انگېزو پر اساس نيول سوي دي. د گوانتنامو په افغاني بنديانو کي خو حتا داسي سپين ږيري هم شامل وه، چي د زړښت يا ذهني ناجوړۍ له اسيته يي د خپل نامه او شهرت په بښوولو کي علمي او مستدله مقاله ( د ملگرو ملتو رپوټ د په خپله(Barry Grey) هم تېروتنه کوله. لکه څنگه چي باري گرې افغان بنديانو د سيستماتيکي ځورَوني اسناد او شواهد وړاندي کيي ) کي کاږي، د کابل د مزدور رژيم د شکنجو او تعذيبو لاري چاري په واقعيت کي هغه تخنيکونه دي، چي دامريکا د متحدو ايالاتو د امنيتي، استخباراتي او عسکري ادارو له خوا عملي سوي؛ او تر دي وروسته به هم د نړۍ په نورو برخو کي په کار واچول سي.[۵۲] حتا نيويارک ټايمز ورځپاني، چي همېشه يي د امريکايي يرغلگرو په دفاع او ستاينه کي ليکني کړي دي، د ۲۰۰۵ع کال د مى مياشتي په يوه سر مقاله کي د امريکايي اشغالگرانو د شکنجو په اړه داسي وليکل:« د بگرام په اړه د نيويارک ټايمز له خوا تر لاسه سوي تحقيقاتي دوسيې روښانه کړله، چي له بنديانو سره ناوړه چال چلن عادي او ورځنی بڼه لرله: د خونو په چتو د بنديانو تړل، له خوبه بې برخي کول، په لغتو او سوکانو وهل، جنسي سپکاوی او په ساتونکو سپو گواښل، ټول کټ مټ هغه څه دي، چي وروسته په عراق کي تکرار سول.»[۵۳] د مشت نمونهٔ خروار په بڼه په افغانستان، عراق او گوانتنامو کي د نړۍ د « متمدنو»، « بشردوستو» او « ډيموکراتو» امريکايي پوځيانو د وحشيانه شکنجو او تعذيبو په اړه ځو اينترنيټپاڼي:

http://www.youtube.com/watch?v=KtMZ_ua9hZk&feature=results_main&playnext=1&list=PL11E26DA649D761C3;
http://www.youtube.com/watch?v=-ux1c-GTzyw&feature=related;
http://www.youtube.com/watch?v=lEMr-Kfpr3A&feature=related;
http://www.youtube.com/watch?v=-DJbyhGuMsc&feature=related;
http://www.youtube.com/watch?v=GXVJ_4SUzwI&http://www.youtube.com/watch?v=_r-wPVwho-k&feature=fvsrfeature=related;
http://en.wikipedia.org/wiki/Bagram_torture_and_prisoner_abuse;
http://www.wsws.org/articles/2009/dec2009/afgh-d01.shtml

د اشغالګرو په انساني ضد زندانو کي دا ټول جرمونه پر امريکايي قوانينو سربېره د بشر د حقوقو له نړيوالي اعلاميې، د جينيوا له کنوانسيونو، د مدني او سياسي حقوقو په اړه د ملګرو ملتو له بين المللي کنوانسيون او د بين المللي حقوقو له نورو منل سوو نورمو او معيارو څخه ځرګنده سرغړونه ده.[54] بارك اوباما د امريکا د جمهوري رياست د لومړۍ دورې تر انتخابي مبارزو مخکي او وروسته په وارو وارو ټينګار کاوه، چي د امريکا دولت و خلګو ته شکنجي او عذابونه نه ورکيي، څکه نو غواړي چي په يوه کال کي د ګوانتنامو د زندان دروازې تل تر تله و تړي؛ خو دا دئ له هغه مهاله تر اوسه څه باندي څلور کاله تېرېږي؛ او ټول جهان د سر په سترګو ګوري، چي د ګوانتنامو انساني قفسخانه تر اوسه لا پر خپل حال ولاړه ده. دردونکي خو لا دا ده، چي د مطبوعاتو د وروستيو رپوټو له مخي، د ګوانتنامو له بنديانو څخه د معلومات تولولو يا اقرار اخيستلو په مخسد له انتي سايکوتيک- د روحي ناروغيو ضد درملو(Antipsychotic Drugs) يا نورو دماغ بدلوونکو دواوو(Mind Altering Drugs) څخه کار اخيستل کيږي، چي دا ګرده له يوې مخي بشري ضد جنايتونه دي.[55]

امريکايي سياستوال او د استعمار ميراثخوران بايد په دې روښانه حقيقت ښه سر خلاص کي، تر هغه وخته چي د ګوانتنامو، بګرام او ابوغريب د وحشيانه زندانو کرغېړني خاطرې د نړيوالو، په تېره بيا افغانانو په زړونو کي ژوندۍ يي د امريکا او مؤتلفينو د« بشر دوستی »،« تمدن سالاری»، « ډيموکراسی» او « قانونواکی» ناري سوري هم د اوبو پر مخ کرښي دي او بس! څکه ګوانتنامو، بګرام او ابوغريب په خپله د انساني ضد جنايتو استعاري نومونه دي .

---

لمنليکونه

[42] http://www.wsws.org/articles/2011/apr2011/afgh-a19.shtml; http://www.benawa.com/details.php?id=41909; http://www.surgar.net/-news-pg-Hot-News-1651.html; http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=24444

[43] ——, “Afghan campaign caused $100 million damage: inquiry”, Reuters, Tue Jan 11, 2011 2: www.reuters.com/article/idUSTRE70A3B620110111

[44] Mike Head, “Afghanistan aid conference signals indefinite foreign occupation”, World Socialist Web site, 10 July 2012: http://www.wsws.org/index.shtml

[45] United Nations, The Universal Declaration of Human Right , adopted on 10 December, 1948: http://www.un.org/en/documents/udhr/

[46] United Nations, The Universal Declaration of Human Rights , adopted on 10 December, 1948: http://www.un.org/en/documents/udhr/

[47] International Committee for Red Cross, The Geneva Conventions of 1949 and their Additional Protocols: http://www.icrc.org/eng/war-and-law/treaties-customary-law/geneva-conventions/index.jsp

[48] *Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights: International Covenant on Civil and Political Rights, adopted on 16 December 1966, effective from 23 March 1976:*
http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

[49] United Nations, Rome Statute of the International Criminal Court, in force on 1st July, 2002, 4: http://www.icc-cpi.int/NR/rdonlyres/ADD16852-AEE9-4757-ABE7-9CDC7CF02886/283503/RomeStatutEng1.pdf

[50] Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights: The United Nations Convention against Torture and Other Cruel, Inhuman or Degrading Treatment or Punishment, signed on 10 December 1984, effective from 26 June 1987: http://en.wikipedia.org/wiki/United_Nations_Convention_Against_Torture

[۵۱] محمد هارون خپل، « د یرغلگرو پوځو او مزدورو زورواکو سیستماتیکي ځوروَني- لومړۍ برخه »، لر او بر ویبپانه، د ۲۰۱۱ع کال د اکتوبر ځلېرویشتمه: http://larawbar.net/detail.php?id=28942

[۵۱] محمد هارون خپل، « د یرغلگرو پوځو او مزدورو زورواکو سیستماتیکي ځوروَني- دوهمه برخه »، افغانستان آزاد - آزاد افغانستان ویبپانه، د ۲۰۱۱ع کال د اکتوبر پینځه ویشتمه:
http://afgazad.com/Hoghogh-Bashar/102511-HKS-De-Yarghalgaro-Pawzoo-2.pdf

[52] Barry Grey, “UN report documents systematic torture of Afghan detainees”, World Socialist Web Site, 12 October 2011:
http://www.wsws.org/articles/2011/oct2011/afgh-o12.shtml

[53] Barry Grey, “UN report documents systematic torture of Afghan detainees”, World Socialist Web Site, 12 October 2011:
http://www.wsws.org/articles/2011/oct2011/afgh-o12.shtml

[54] *——, Guantanamo, Bagram and Illegal U.S. Detentions:*
http://www.amnestyusa.org/our-work/issues/security-and-human-rights/guantanamo;
——, Majority of Guantanamo prisoners are innocent:
http://www.youtube.com/watch?v=P2rfRcS9jqA

[55] Nina Liss-Schultz, “Guantanamo Inmates Forcibly Given ‘Mind Altering Drugs’ Prior To Investigations”, thinkprogress.org, July 12, 2012:
http://thinkprogress.org/justice/2012/07/12/515400/guantanamo-inmates-forcibly-given-mind-altertering-drugs-prior-to-investigations/

پاته په بله برخه کي